دَ افغانستان اسلامي جمهوري دولت
د علومو اکاډمي
د بشري علومو معاونيت
د ژبو او ادبیاتو مرکز
د پښتو ژبې او ادبیاتو انستیتوت

# پښتو لهجوي قاموس

شپږم ټوک

بغلان، کندوز، تخار، بلخ، جوزجان، فارياب

کال: ۱۳۹۹ ل

د افغانستان اسلامي جمهوري دولت

د علومو اکاډمي

د بشري علومو معاونیت

د ژبو او ادبیاتو مرکز

د پښتو ژبې او ادبیاتو انستیتوت


# پښتو لهجوي قاموس

## شپږم ټوک

(بغلان، کندوز، تخار، بلخ، جوزجان، فاریاب)


کال: ۱۳۹۹ل

بسم الله الرحمن الرحیم

# پښتو لهجوي قاموس (شپږم ټوک)

## راټولوونکي:

۱- څېړندوی رحیم الله حریفال/ بغلان ولایت

۲- څېړنیار لطف الله صابر/ بغلان ولایت

۳- څېړنوال سید نظیم سیدي/ کندوز ولایت

۴- څېړنیار حضرت آغا همدرد/ کندوز ولایت

۵- څېړندوی عبدالاحد منګل/ تخار ولایت

۶- څېړنیار احسان الحق کبیر/ تخار ولایت

۷- څېړنوال محمد اصف احمدزی/ بلخ ولایت

۸- څېړنیار یاسر پاچا/ بلخ ولایت

۹- څېړنیار محمد اسحاق مومند/ جوزجان ولایت

۱۰- څېړنیار شریف الله دوست/ جوزجان ولایت

۱۱- څېړنپوه مولاجان تڼیوال/ فاریاب ولایت

۱۲- څېړندوی مطیع الله ساحل/ فاریاب ولایت

مهتمم: څېړندوی مطیع الله ساحل

ایډیټور: څېړنوال سید نظیم سیدي

خپرندوی: د افغانستان د علومو اکاډمي، د ژبو او ادبیاتو ریاست، د پښتو ژبې او ادبیاتو انستیتوت

د چاپ کال: ۱۳۹۹ل / ۲۰۲۰ز

د چاپ شمېر: ۱۰۰۰ ټوکه

کمپوز او ډیزاین: اکمل بها

د چاپ ځای: زکریا محمد گرافیکس

د چاپ ټول حقوق د افغانستان له علومو اکاډمي سره خوندي دي

# د سر خبرې

مخکې له دې چې د پښتو لهجوي قاموس په اړه څه ووایو، مناسبه ده چې د قاموس په باب څو لنډو ټکو ته نغوته وکړو:

قاموس عربي کلمه او جمع یې قوامیس ده. لغوي معنا یې سیند، د سیند منځ، د سیند تل، د سیند ژور ځای او لوی سیند ده او په اصطلاح کې د لغاتو تدوین شوي کتاب ته وايي؛ یعنې قاموس په حقیقت کې د یوې ژبې د لغتونو ټولګه ده. په انګرېزي ژبه کې د قاموس معادلې کلمې (Dictionary) او (Vocabulary) دي.

قاموس هغه کتاب ته وايي چې په هغه کې د یوې ټاکلې ژبې کلمې چې په عمومي ډول د الفبا په ترتیب سره تنظیمېږي، راغلې وي او د دغو کلمو معناوې په کې بیان شوې وي. همدارنګه هغه کتاب چې په هغه کې د یوې ژبې د کلمو د یوې یا څو خارجي ژبو معادلې او مترادفې کلمې راغلې وي، هم قاموس بلل کېږي.

دغه رنګه قاموس هغو کتابونو ته هم وايي چې په هغو کې د یوې ټاکلې علمي، فني یا مسلکي رشتې اصطلاح ګانې د الفبا په ترتیب سره تنظیم شوې وي او په یوه مناسبه طریقه او میتود سره د هغوی په اړه تعریفونه او توضیحات ورکړل شوي وي او یا په بهرنۍ ژبه د هغوی معادل ورسره راوړل شوی وي.

په قاموسونو کې د یوې ژبې پر اصلي لغاتو سربېره مستعار، مترادف، دخیل، متضاد، اشتقاقي او ترکیبي ویيونه راټلای شي. قاموسونه بېلابېل ډولونه لري، لکه: تشریحي، یو ژبی، دوه ژبی او څو ژبی قاموس، خو څرنګه چې آره موضوع لهجوي قاموس دی؛ نو ځکه دغه بحث نور نه اوږدوو.

د یوې ژبې قاموس هماغومره اهمیت لري، څومره یې چې ګرامر ارزښت لري.

دا یوه جوته خبره ده چې د نړۍ ژبې لهجې او لهجوي توپیرونه لري، خو د دوی ترمنځ غټ توپیر دا دی چې ځینې ژبې لږې او ځینې ډېرې لهجې لري.

په یوه ژبه کې د لهجو رامنځ ته کېدل بېلابېل لاملونه لري چې موږ دلته پرې نه غږېږو، خو هغه څه چې په اړه یې څه ویل اړین دي، هغه په ژبې پورې اړوندې لهجې دي.

لهجه د یوې ژبې ځانګړی فورم دی چې په یوې ځانګړې جغرافیایي سیمه کې ویل کېږي، ګرامري او لغوي جوړښت یې له معیاري ژبې سره توپیر لري.

دا طبیعي خبره ده چې د انساني ژوند له تحولاتو سره سم په ژبه کې هم بدلون منځ ته راځي چې ټولنیز تحولات د ژبې په ستره لمن کې خپلې اغېزې ښندي، دا په دې معنا ده چې ژبه له ټولنې سره ټینګې او پخې اړیکې لري. دا اړیکې دې ته زمینه برابروي چې د وخت په تېرېدو سره د ژبې په لهجو کې هم تغییر او بدلون

راشي او هغه پرګني چې بېلابېلې لهجې کاروي، يوې معياري ژبې ته مخه کړي، پر دې بنسټ لهجوي پانګه خپله لمن رانغاړي او د پراخوالي پر ځای د تنګوالي پر لوري پل ږدي، په دې معنا چې د لهجې کارونې پر ځای معياري ژبه رامخې ته کېږي. دا کار که له يوې خوا په ليکنه کې ګډوډي له منځه وړي، نو له بلې خوا ځينې هغه لهجوي توکي او عناصر هم چې په ژبه کې لږ کارېږي له هېرېدو سره مخامخ کوي. همدا لامل دی چې ژبپوهان هڅه کوي لهجوي قاموسونه وليکي چې د يوې ژبې د اړوندو لهجو لغتونه او اصطلاحګانې له ورکېدو څخه وژغوري. دا کار که له يوې خوا د ژبې زېرمې له ورکېدو څخه ژغوري، نو له بلې خوا د اړوندې ځانګې مينه والو، ځانګوالو پوهانو او ګرامر ليکوالو ته وړ مواد په لاس ورکوي.

نړيوالو دا کار ډېر پخوا پيل کړی دی او اوس هم د ورته چارو په ترسره کولو بوخت دي. خو دغه کار د هر چا له وسې هم پوره نه دی، نو ځکه دغه ډول درانه څېړنيز-پوهنيز کارونه او علمي چارې اکاډميک او علمي مرکزونه تر سره کوي، همدې اصل ته په پاملرنه د افغانستان د علومو اکاډمۍ وپتېيله چې د ژبو او ادبياتو مرکز د پښتو ژبې او ادبياتو انستيتوت بايد دې درانه کار ته اوږه ورکړي. د پښتو ژبې او ادبياتو انستيتوت د همدې پرېکړې پر بنسټ دغه غوښتنه ومنله او عملاً يې کار پيل کړ، د دغه انستيتوت استادانو او پوهانو لومړی سهيل ختيځو او ختيځو ولايتونو ته، ورپسې مرکزي ولايتونو ته او په دريم ځل جنوب لويديځو ولايتونو ته رسمي سفرونه وکړل، په ترخو، ترينګلو او نا امنو شرايطو او ډېر لنډ او تنګ وخت کې چې هېڅ ډول اړين امکانات يې په واک کې نه وو، په کليو او بانډو کې يې د ژبنيو توکو د راټولولو چارې پيل کړې، څومره يې چې له لاسه کېدل، هماغومره مواد يې را ټول او کار يې پرې وکړ او د چاپ لپاره يې چمتو کړل، چې دا کتاب د همدغې لړۍ شپږم ټوک دی او که د الله رضا وه، نو دا لړۍ به همداسې دوامداره وي، تر څو د ټول افغانستان د ګوټ ګوټ پښتنو لهجې راټولې او مينه والو ته وړاندې شي، خو په ورته وخت کې د دې خبرې يادول هم اړين دي چې آيا زموږ کار بشپړ دی او که نيمګړتياوې هم لري؟ مشهوره مقوله ده چې وايي: ((که غواړې بې عيبه ليکنه وکړې، نو هېڅ به هم ونه ليکې)) ښکاره خبره ده چې ځينې نيمګړتياوې به هم په کې وي، خو د خوشحالۍ خبره دا ده چې د پښتو ژبې او ادبياتو د انستيتوت څېړونکو او پوهانو د يوه ډېر مهم او اړين کار بنسټ کېښود، دوی د لومړي ځل لپاره د پښتو لهجو د راټولولو او څېړنې لړۍ پيل کړه، چې څه نا څه نيمګړتياوې هم ورسره ملې دي، خو تر وسې وسې يې د دغو نيمګړتياوو د سمون هڅه هم کړې، خو دا چې ځينې يې لا پاتې دي پورته يې دلايل په ګوته شول، نو په کار ده چې دا لړۍ لاپسې غنې او وغځول شي.

د يادونې وړ ده چې د پښتو لهجوي قاموس پرمختيايي پروژه په ۱۳۹۰ لمريز کال کې پيل شوې چې مالي امکاناتو او امنيتي شرايطو ته په کتو سره يې چارې د هېواد په بېلابېلو ولايتونو کې په اوږد مهاله بڼه پرمخ روانې دي.

د دغه لهجوي قاموس د موادو په راټولولو کې پر بېلابېلو سيمو سربېره د پښتنو سترې قبيلې هم په پام کې نيول شوې دي او د هرې قبيلې لهجه د هغوی له تلفظ سره سمه خوندي شوې ده، د مثال په توګه که په شرقي حوزه کې (پښې) ته (پخه) يا (خپه) ويل شوې، نو د (خپه) يا (پخه) په بڼه ثبت شوې او که په غربي، شمال او شمال غربي حوزو کې پښتو ته (پشتو) يا غږ ته (ژغ) ويل شوی، نو هلته د اکاډمۍ د نورو متخصصو استادانو تر څنګ د دغه مرکز د دوو لويو ژبپوهانو څېړنپوه دوکتور خليل الله اورمړ او پوهاند دوکتور مجاور احمد زيار په ګډون په يوه غونډه کې چې د هرې سيمې ځانګوال په کې موجود وو، تر ډېرو خبرو اترو او علمي دلايلو وروسته د ژبپوهنې د اساساتو او قوانينو پر اساس يې په دې پرېکړه وکړه چې د دغو سيمو په لهجو کې به د (پښتو) کلمې ته (پښتو)، خو په ليندیو کې (پشتو) او ګرافيمي بڼه به يې (paşto) ليکل کېږي او همداسې د (وږمې) کلمې ته په لهجه کې (وږمه) خو په قوس کې (وژمه) (wažma) وليکل شي او ټول دغه ډول اختلافي موارد يا د (ږ) او (ښ) اوازونه دې پر دغو لهجو کې په (ẓ -ž) او (ṣ -ş) وليکل شي چې په دې خبره ټولو استادانو او متخصصينو هوکړه وکړه، د استادانو دغه کار په دې نيت شوی چې هم يې له معيار سره توپير جوت شي او هم هغه اصلي او سوچه اصالتونه او وينګونه يې خوندي شي، خو يوه خبره بايد هېره نه کړو چې دا کار د لهجو د ښودلو لپاره شوی، د کلمې آره بڼه او معياري حالت خوندي ساتل شوی دی.

په هر حال، دغه قاموس په الفبايي سيستم ترتيب شوی او د هرې کلمې تلفظ په فونيميکي الفبا هم ليکل شوی دی، دا کار د دې لپاره شوی چې لوستونکي يې د لوستلو پر مهال له ستونزو سره مخامخ نه شي او همدارنګه څېړونکو او مينه والو ته د څېړنې پر مهال اسانتياوې برابرې شي. په دې ځای کې پر ځای بولو د هغو ښاغلو څېړونکو نومونه ياد کړو چې د هېواد د شمالي  او شمال غربي ولايتونو او سيمو ((بغلان، کندوز، تخار، بلخ، جوزجان، فارياب)) پښتو لهجې يې را ټولې کړي او اوس يې په شپږم ټوک کې چاپوو، هغه ښاغلي: څېړنپوه مولاجان تنيوال، څېړنوال سيد نظيم سيدي، څېړنوال محمد اصف احمدزی، څېړنوال عبدالاحد منګل، څېړندوی رحيم الله حريفال، څېړندوی مطيع الله ساحل، څېړنيار شريف الله دوست، څېړنيار لطف الله صابر، څېړنيار محمد اسحق مومند، څېړنيار حضرت آغا همدرد، څېړنيار احسان الحق کبير او څېړنيار ياسر پاچا دي چې په ډېر زيار او زحمت سره يې په نا امنو شرايطو کې د دغو سيمو مروجې لهجې تر وسې وسې پر ښارونو سربېره له کلو او بانډو هم را ټولې کړي او دا دی ستاسې په مخ کې ايښي دي چې د پښتو ژبې او ادبياتو انستيتوت د دغو پوهانو او څېړونکو د زيار او هڅو ستاينه او درناوی کوي، خو وړاندې تر دې چې تاسو ته د قاموس د لوستلو بلنه درکړې اړينه ده چې د څو ضروري خبرو يادونه وکړو:

لکه څنګه چې پوهېږئ دغه قاموس یو لهجوي قاموس دی او د بغلان، کندوز، تخار، بلخ، جوزجان او فاریاب ولایتونو د هر یو ولایت د شپږو لویو قبیلو چې په ټوله کې شپږدېرش قبیلې کېږي، لهجې په کې خوندي شوې دي، خو تر لهجو وړاندې یو کالم معیاري لغتونه دي او دا نور کالمونه د همدغو لغتونو پر اساس له غږ سره خوندي شوي دي چې بې له شکه په دې ځای کې به لږو ډېرې تېروتنې او کمی هم په کې وي، خو هغه څو لاملونه لري: لومړی دا د لهجو د خوندي کولو لپاره چې کوم لابراتوار او وسایل اړین دي اصلاً په افغانستان کې نشته او زموږ څېړنیزو کارډلو په ساحو کې پر ګرانو مرکچیانو د یوې لهجې د لغتونو د بیا بیا تکرار سره په ریکارډرونو کې هم اوازونه ضبط کړي، خو هغه کوچني او تخصصي توپیرونه چې باید د یوه سیستم په وسیله جلا شي، له بده مرغه چې نشته. دوهم لامل یې د کار لپاره ډېر لږ وخت او په ټوله معنا له کلیوالو خلکو، مشرانو، ځوانانو، ښځو او... سره مرکې وې چې په هغې کې هم ځینې ستونزې چې له امنیتي برخې را واخله تر فرهنګي، کلتوري او سنتي برخې پورې دي، موجودې وې.

د دې تر څنګ ځینې نورې لویې او کوچنۍ ستونزې هم وې چې دې کار ته یې لږو ډېرې ربړې را پیداکړې وې، خو بیا هم وایو چې زموږ لپاره اصل معیار دی او لهجه څنګه چې تلفظ شوې په ټولې امانتدارۍ هماغسې خوندي شوې او هېڅ ډول لاسوهنه په کې نه ده شوې. هیله ده چې د دې برخې څانګوال به د بخښنې تر څنګ خپله هر ډول همکاري له موږه نه سپموي، نور نو ستاسو په مخ کې نه خنډ کېږو د قاموس لوستلو ته مو را بولو.

په درنښت

د ژبو او ادبیاتو ریاست

د پښتو ژبې او ادبیاتو انستیتوت